

# تبنته نشته

## د طالبانو په لاس د افغانستان د سقوط پر مهال جنګي جرمونه او ملکي زیانونه

AMNESTY INTERNATIONAL

د ښځينې نړيوال سازمان د 10 مليونه خلکو خوځښت دی چې په دې ټولو کې د بشرپالنې حس ته انګېزه ورکوي او د بدلونونو لپاره کمپاين کوي ترڅو موږ ټول وکولای شي بشري حقونو ته لاسرسی ولرو. زموږ لرليد دا دی چې داسې نړۍ ولرو چې په قدرت کې کسان خپلې ژمنې عملي کړي، نړيوالو قوانينو ته درناوی ولري او ځان مسئوله وګڼي. موږ له هېڅ ډول حکومت، سياسي آيډيالوژۍ، اقتصادي ګټو يا مذهب سره اړيکه نه لرو او د خپلو غړو سازمانونو او شخصي بسپنو په واسطه تمويلېږو. موږ باور لرو چې له خلکو سره د مشارکت او مهربانۍ په چوکاټ کې تعامل کول کولای شي په هر ځای کې زموږ په ټولنو کې مثبت بدلون رامنځ ته کړي.

*د پښتې انځور:* انس حقاني، له ښي خو منځ کې، د دې وسله والې ډلې له خوا د حامد کرزي نړيوال هوايي ډګر له نيولو وروسته د طالب جنګياليو له خوا نيول شوو جنګي وسايطو څخه ليدنه کوي، وروسته له هغه چې امريکايي ځواکونو له کابل، افغانستان څخه خپل پوځونه وويستل، سه شنبه، اګست ۳۱، ۲۰۲۱.

© Amnesty International 2021
Except where otherwise noted, content in this document is licensed under a Creative Commons (attribution, non-commercial, no derivatives, international 4.0) licence.
https://creativecommons.org/licenses/by-nc-nd/4.0/legalcode
For more information please visit the permissions page on our website: www.amnesty.org
Where material is attributed to a copyright owner other than Amnesty International this material is not subject to the Creative Commons licence.
First published in 2021
by Amnesty International Ltd
Peter Benenson House, 1 Easton Street
London WC1X 0DW, UK

**Index: ASA 11/5025/2021**
**Original language: English**

**amnesty.org**

AMNESTY INTERNATIONAL

# اجرائیوي لنډیز

> **"یوائینی شی چې موږ یې غواړو د ملکي وګړو د بمبارولو درول دي."**
> د کندز ولایت ۳۴ کلن بزګر، چې په کندز کې پر یو روغتون باندې د افغان هوایي ځواک له برید وروسته یې خبرې کولې.

د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵مه نېټه د طالبانو په لاس د کابل سقوط نړۍ حیرانه کړه. باید داسې نه وای. په افغانستان کې د دوو لسیزو وسله واله جګړه چې تل یې په پراخه کچه ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې، د ۲۰۲۱ کال په اپریل کې د امریکا له خوا د بشپړ وتلو تر اعلان وروسته د شدت نوې کچې ته ورسیده، چې طالبانو د بریا په حس کولو سره په ټول هیواد کې بریدونه پیل کړل. سترې شوې افغان امنیتي ځواکونه - چې د خپل فساد، ځورونې او د ملکي خلکو په وړاندې د مرګونې تاوتریخوالی له لارې یې له وخته د افغانستان د خلکو په سترګو کې مشروعیت له لاسه ورکړی و - د بقا یوه تته جګړه وکړه. که نړیوالو خبرې رسنیو ته غوږ ونیسئ، نو داسې ښکاري چې افغانستان په یوه شپه کې سقوط وکړ. په جګړه کې را ایسار ملکي وګړي بیا بل ډول تصور لري.

د کندز په ښار کې جګړه د ۲۰۲۱ کال د جون په میاشت کې په ځانګړې توګه سخته وه. په لویدیځه څنډه، زاخیلو کې، حکومتي ځواکونو په ګڼ میشته ملکي سیمو د هاوانونو ډزې وکړې، په داسې حال کې چې طالب ځواکونو د بریدونو لپاره د ښوونځیو او جوماتونو په کارولو سره پرمخ تګ کولو، او په کورونو کې له بندو پاتې کورنیو څخه یې د خوړو غوښتنه کوله. د هاوان یوه مرمۍ په یوه کور ولګیده، او د کورنۍ یوه غړې یوه ۱۲ کلنه نجلۍ، منیژه، روغتون ته راوړله چې یوه فلزي ټوټه یې په ملا کې بنده وه. یوه اونۍ وروسته د ټپونو له امله مړه شوه. یاد سړي وویل: "هغه ورځ د سرطان لومړۍ نېټه وه، د هاوان ډېرې ډزې وې. ما په روغتون کې خپل کلیوال ملګري وپیژندل. زموږ په ګاونډ کې طالبان وو، په جوماتونو کې اوسېدل خو د خلکو په کورونو کې نه وو. [وروسته] زه د هوایی ډګر سړک ته لاړم ځکه چې دا په کندز کې یوازینی ځای دی چې اوس خوندي دی. هرڅوک چې دندې او پیسې لري هلته تللي دي." خو حتی په کندز کې هغه وروستی پټنځای هم ډیر ژر د طالبانو لخوا ونیول شو.

د پخواني افغان حکومت تر ړنګېدو پورې په افغانستان کې یوه غیر نړیواله وسله واله جګړه وه. د دې جګړې درې لوی اړخونه طالبان، افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه او متحده ایالات وو. دا راپور د نړیوالو قوانینو له مخې د جنګي جرمونو، د بشري حقونو د سرغړونو او د جنګیالیو لخوا ترسره شوو سرغړونو، او د جګړې په جریان کې د ملکي تلفاتو په شمول د درې واړو خواوو لخوا د ترسره شوو جرمونو اسناد ثبتوي چې د پخواني افغان حکومت د ړنګیدو لامل شول. په ټوله کې، دا راپور د ملکي تلفاتو ۱۲ پیښې څېړي، چې په کې لږ تر لږه ۴۰ کسان وژل شوي او لږ تر لږه ۲۱ نور ټپیان شوي دي. د څیړنې د ترسره کولو لپاره، د ښښنې نړیوال سازمان د ۲۰۲۱ کال د جولای او ډسمبر میاشتو تر منځ په کابل کې د ژوندي پاتې شویو، د قربانیانو د کورنۍ غړو، او شاهدانو سره مرکې وکړې – چې هم په کې مخامخ، او هم د کوډ شوو اړیکو له لارې مرکې شاملې وې. د دې ترڅنګ، څارونکو د پرانیستو-سرچینو معلوماتو ته هم یوه کتنه وکړه لکه د سپوږمکۍ انځورونه، دولتي اسناد، او ډیجیټل ویډیوګانې او عکسونه.

په دې راپور کې پيښې په څو پراخو کټګوريو کې ډلبندي شوې دي. متحده ايالتونو هوايي بريدونه ترسره کړل چې په پراخه کچه ملکي وګړي يې ووژل ځکه چې دوی په ګڼ ميشته سيمو کې چاودېدونکي وسلې غورځولې. کله چې طالبانو د نويو ولسواليو واک ترلاسه کړ، جنګي جنايتونه پيل شول. توکميز او مذهبي اقليتونه، د ملي اردو پخواني سرتيري او د پخواني حکومت ملاتړي ټول د شکنجې او اعدام لپاره په نښه شوي وو. د وژنې بشپړه اندازه معلومه نه ده، ځکه چې طالبانو په ډېری کليوالو سيمو کې د ګرځنده تليفون خدمت قطع کړی، يا يې انټرنيټ ته لاسرسی په کلکه محدود کړی. او بالاخره، په بې غوری او نړيوالو قوانينو ته په ښکاره بې پامې سره، د ملي اردو ځواکونو په کورونو د هاوانونو بريدونه پيل کړل، او په روغتون يې هوايي بريد ترسره کړ، چې ټول هغه ملکي وګړي يې ووژل چې له وېرې پټ شوي ول. په ځينو حالتونو کې، د بريدونو بشپړه بې احتياطي ممکن د جنګي جرمونو کچې ته لوړه شي، نو په ښکاره ډول دوی د ملکي او نظامي اهدافو ترمنځ په سمه توګه توپير کې پاتې راغلي.

په دې راپور کې ځيرل شوي بريدونه په هيواد کې د متحده ايالتونو د مداخلې په وروستي پړاو کې د افغانانو د کړاوونو د يوې کوچنۍ او پاشلې، خو مهمې برخې څرګندونه کوي. بايد په ډاډ سره وويل شي چې په افغانستان کې د ملکي تلفاتو کچه په دې راپور کې د بيان شويو انفرادي قضيو په پرتله خورا ستره ده. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) د ۲۰۲۱ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د ۱۶۵۹ ملکي وګړو د وژل کېدو او ۳۵۲۴ نورو د ټپي کېدو خبر ورکړی دی، چې د تېر کال په پرتله ۴۷ سلنه زياتوالی ښيي. له هغه وخته چې يوناما په ۲۰۰۹ کال کې د سيستماتيک ريکارډ ساتل پيل کړي دي، د ۲۰۲۱ کال می او جون مياشتې د ملکي وګړو لپاره تر ټولو له تاوتريخوالي ډکې وې.

په سمه توګه، د دې ملکي زيان د ځوابولو لپاره د پخواني افغان حکومت د ورتيا نشتوالی مهم، او اوږدمهاله و، او بالاخره يې د دولت د ثبات په کمزوري کولو کې مرسته وکړه، ځکه چې خلکو د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره د کابل پر وړتيا باور له لاسه ورکړ. ډېری خلکو چې د بښنې نړيوال سازمان سره يې خبرې کولې، يوه ستړې هوساينه څرګنده کړه چې د طالبانو واک به لږترلږه پر سړک باندې اخيستل کېدونکو بډو او د دوی پر کورونو د هاوانونو بې توپيره بريدونو ته د پای ټکی کېږدي.

لکه څنګه چې دا او نورې څېړنې ښيي، ماشومان د جګړې په جريان کې له ځانګړو خطرونو سره مخ شوي دي. په بريدونو کې په سلګونو ښوونځي ويجاړ شوي يا زيانمن شوي، ځينو يې په قصدي توګه زده کوونکي او ښوونکي په نښه کړي، او د دې بريدونو مسؤليت هيچا نه دی اخيستی او نه يې هم قربانيانو ته جبران ورکړل شوی دی. حتی په ډېرو نادره مواردو کې چې د خسارې تاديه شوې وي، لکه د ۲۰۲۱ کال د می په مياشت کې د کابل په لويديځ کې د سيد الشهدا پر ښوونځي د ستر بريد وروسته، ځينې ماشومان او په ځانګړې توګه نجونې له دې جبران څخه محرومې شوې دي، چې له نړيوالو قوانينو څخه ښکاره سرغړونه ده.

که څه هم نورو څېړنو ته اړتيا ده، خو د بښنې نړيوال سازمان اسناد وړانديز کوي چې معلوليت لرونکي خلک، او په ځانګړې توګه ځينې رواني ټولنيز معلوليت لرونکي خلک، د لوړ خطر سره مخ شوي دي چې د د طالبانو سرني بريدونه هم په کې شامل دي. د بېلګې په توګه، د مالستان ولسوالی د مندرخت په کلي کې طالبانو په سختو رواني ناروغيو اخته دوه تنه اعدام کړل، هغه هم په دې خاطر چې دوی د واک د تر لاسه کولو په وخت کې په يوه کلي کې پاتې ول.

که څه هم د افغانستان حکومت نور نشته، خو له طالبانو سره د جګړې په جريان کې د خپلو اتباعو په سمه توګه ساتنه کې پاتې راتلل د نړۍ نورو دولتونو ته يو درس ورکوي. د خپلو ملکي وګړو وژل، له خپلو اتباعو د بښنې او د خسارې د ورکړې توان نه لرل، يا حتی ملکي خلکو ته د ادعا کولو څرنګوالي تشريح کول، دا ټول هغه څه ول چې د مرکزي حکومت د مشروعيت په له لاسه کولو کې يې مرسته وکړه. هغه هيوادونه چې په خپله خاوره کې د وسله والو ډلو په وړاندې په غير نړيوالو وسله والو جګړو کې ښکېل دي، دا به ورته ښه وي چې دا درس زده کړي چې د ملکي وګړو ساتنه او د بشري حقونو مکلفيتونه پوره کول د مشروعيت او ثبات د ساتلو لپاره مرکزي نقش لري. په همدې ډول ناټو، د امريکا متحده ايالتونه او د غوڅ ملاتړ د عملياتو نور ۳۵ غړي هيوادونه بايد په دې اړه غور وکړي چې څنګه افغان امنيتي ځواکونو، د دوی له خوا رامنځته شوي او روزل شوي ځواک، د افغان حکومت په سقوط کې ونډه لرله.

په افغانستان کې د جګړې دوام حتمي دی، ځکه چې د طالبانو او د اسلامي دولت د خراسان ولايت (داعش) ځواکونه په جګړه کې دي، او دواړه ډلې د قومي او مذهبي اقليتونو په نښه کولو ته دوام ورکوي. ډېر احتمال شته چې متحده ايالتونه به هم د داعش په وړاندې عملياتو ته دوام ورکړي، او نړۍ لا دمخه د دې راتلونکي

اټکل کړی دی. د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۲۹ د کابل په لوېدیځ کې پر یوه کور د امریکا د متحده ایالتونو بې پیلوټه الوتکې برید د اوو ماشومانو په ګډون ۱۰ ملکي وګړي ووژل. د متحده ایالتونو چارواکو ادعا وکړه چې دوی د داعش تسهیل کونکي تر هدف لاندې نیولي ول، او په یوه ابتدایي بیان کې، سینټکام CENTCOM راپور ورکړ: "موږ ډاډه یو چې موږ په بریالیتوب سره هدف وویشت. د موټر څخه پورته شوې ثانوي چاودنه د پام وړ چاودیدونکو موادو شتون څرګندوي. موږ د ملکي تلفاتو احتمالات ارزوو، که څه هم تر اوسه داسې نښې نشته.» دا ټولې بیانیې یوه په بل پسې غلطې ثابتې شوې.

په افغانستان، عراق، سوریه، یمن او سومالیا کې متحده ایالتونه د هوایي بریدونو په ترڅ کې د ملکي وګړو د ساتنې او د زیان په صورت کې د مناسب جبران په ورکولو کې پاتې راغلي دي. د ملکي تلفاتو یو څو مهمې قضیې، لکه د اګست په میاشت کې د کابل هوایي برید، د نړیوالو پام ځانته اړولی دی. مګر لږې-ښکاره قضیې، لکه په دې راپور کې چې مستندې شوې دي، ډېرې وختونه نه تصدیق کېږي. د نړیوالو خبرونو کیسو ته باید اړتیا پېښه نه شي چې متحده ایالتونه اړ کړي څو خپل مکلفیتونه د نړیوالو قوانینو په رڼا کې ترسره کړي.

او لکه څنګه چې په افغانستان کې کړکېچ دوام لري - یوه داسې شخړه چې متحده ایالتونه یې نور اړخ نه دی - د نړیوال بشردوستانه قانون پرځای باید اوس د بشري حقونو نړیوال قانون، د متحده ایالتونو د راتلونکو عملیاتو لاربښود چوکاټ وي چې تر هغه لاندې د فرد د ژوند د حق خوندیتوب مهم دی.

په دغه راپور کې د راغلو معلوماتو په رڼا کې، د ښښنې نړیوال سازمان پر طالب چارواکو غږ کوي چې سمدستي د ملکي وګړو وژنه ودروي، په دغه راپور کې وړاندې شوې قضیې وڅېړي او په کومو ځایونو کې چې تضمین موجود وي، د مرګ له سزا پرته دې عادلانه محاکمه وکړي. د جرمونو نړیواله محکمه باید په دې راپور کې د مستند شویو قضیو په ګډون، د جګړې د ټولو اړخونو په اړه بشپړې څېړنې وکړي. او طالبان او متحده ایالتونه باید خپل نړیوال مکلفیتونه پوره کړي او د ملکي خلکو لپاره واضح او پیاوړي میکانیزمونه رامنځته کړي ترڅو د جګړې په جریان کې د اوښتو زیانونو د جبران غوښتنه وکړي.

**د ببنني نړيوال سازمان د بشري حقونو لپاره يو نړيوال خوځښت دى. كله چې له يو تن سره بې عدالتي كيږي، په موږ ټولو پورې اړه لري.**

CONTACT US

info@amnesty.org

+44 (0)20 7413 5500

JOIN THE CONVERSATION

www.facebook.com/AmnestyGlobal

@Amnesty

# تېښته نشته

## د طالبانو په لاس د افغانستان د سقوط پر مهال جنګي جرمونه او ملکي زيان

د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵مه نېټه د طالبانو په لاس د کابل سقوط نړۍ حیرانه کړه. باید داسې نه وای. په افغانستان کې د دوو لسیزو وسله واله جګړه چې تل یې په پراخه کچه ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې، د ۲۰۲۱ کال په اپریل کې د امریکا له خوا د بشپړ وتلو تر اعلان وروسته د شدت نوې کچې ته ورسیده.

د شخړې په وروستیو میاشتو کې، متحده ایالتونو هوايي بریدونه ترسره کړل چې په پراخه کچه ملکي وګړي يې ووژل. کله چې طالبانو د نویو ولسوالیو واک ترلاسه کړ، جنګي جنایتونه پیل شول. توکمیز او مذهبي اقلیتونه او د پخواني حکومت ملاتړي ټول د شکنجې او اعدام لپاره په نښه شوي وو. افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو پر کورونو د هاوانونو بریدونه پیل کړل، او په روغتون یې هوايي برید ترسره کړ، چې ټول هغه ملکي وګړي یې ووژل چې له وړې پټ شوي ول.

په دې راپور کې څېړل شوي بریدونه په هیواد کې د متحده ایالتونو د مداخلې په وروستي پړاو کې د افغانانو د کړاوونو د یوې کوچنۍ او پاشلې، خو مهمې برخې څرګندونه کوي.

INDEX: ASA 11/5025/2021
DECEMBER 2021
LANGUAGE: PASHTU



AMNESTY INTERNATIONAL